# 11 د برېتانیا/اروپايي غوښتنلیک ورکوونکو د انتقال سکیم (UEATS)

UK

د ۲۰۲۵ کال د اگست په پنځمه نېټه، برېتانیا یو نوی قانوني لاره اعلان کړه چې د برېتانیا/اروپايي غوښتنلیک ورکوونکو د انتقال سکیم نومېږي، او دا هغو کسانو ته ځانګړې شوې چې اوس مهال په فرانسه کې پرته له قانوني مهاجرتي وضعیت څخه ژوند کوي.
دا سکیم یوه موقع برابروي چې محدود شمېر کسانو ته اجازه ورکړي تر څو د برېتانیا او فرانسې ترمنځ د پایلټ هوکړې په چوکاټ کې برېتانیا ته داخل شي. حکومت اعلان کړی چې د دې سکیم له مخې، هر هغه کس ته چې برېتانیا ته داخلېږي، یو معادل کس به بېرته فرانسې ته ستنېږي.

## څوک د غوښتنې لپاره وړتیا لري؟

- تاسو کولای شئ غوښتنه وکړئ که تاسو ټولې دا شرطونه پوره کوئ:
- تاسو همدا اوس په فرانسه کې یاست. (د کورنیو چارو وزارت به ستاسو د موقعیت د تایید غوښتنه وکړي)
- ستاسو عمر ۱۸ کاله یا زیات دی، یا له داسې مور یا پلار سره غوښتنه کوئ چې عمر یې ۱۸ کاله یا زیات وي.
- تاسو په فرانسه کې قانوني ویزه، استوګنځی، یا د پاتې کېدو اجازه نه لرئ.
- تاسو د هېڅ اروپايي هېواد تبعه نه یاست.
- تاسو په بل هېڅ هېواد کې پناه یا د کډوالۍ حیثیت نه دی ترلاسه کړی.
- تاسو لا دمخه په برېتانیا کې نه یاست او نه مو مخکې غیرقانوني برېتانیا ته ننوتی دی.
- تاسو پاسپورټ یا د پېژندنې سند او یوه تازه عکس لرئ.

## ایا زه کولای شم له خپلې کورنۍ سره غوښتنه وکړم؟

هو، تاسو کولای شئ د کورنۍ د ډلې په توګه غوښتنه وکړئ که تاسو:

- مور، پلار، ماشوم، یا ملګری یاست چې یو ځای غوښتنه کوئ.
- یو کس لومړی غوښتنه کوي او د کورنۍ د موندنې شمېره ترلاسه کوي.
- نور کسان دا شمېره په خپلو غوښتنلیکونو کې کاروي.
- تاسو باید ټول یو ځای غوښتنه وکړئ او یو بل په خپلو غوښتنلیکونو کې یاد کړئ.
- تاسو باید د زېږون سند یا د واده سند یوه کاپي ولرئ.

## زه څنګه غوښتنه کولی شم؟

د غوښتنې لپاره، د علاقې اظهار فورمه آنلاین د دې لینک له لارې وسپارئ
https://www.register-uk-european-applicant-transfer-scheme.homeoffice.gov.uk/start

- تاسو ته به یو داسې وسیله پکار وي چې انټرنیټ ته لاسرسی ولري؛ یو برېښنالیک پته او د اړیکې لپاره د ټیلیفون شمېره هم پکار ده، تر څو غوښتنه وکړئ. تاسو ته به د خپل ځای د تایید لپاره یو پیغام (SMS) راولېږل شي.

## څوک به وټاکل شي؟

کومې غوښتنلیکونه چې د ننوتلو جواز (Entry Clearance) ته ځي، دا به د څېړ شوي لارښود له مخې پرېکړه کېږي. انتخاب به په درې پړاوونو کې ترسره شي:

- لومړی پړاو: آیا تاسو د لوړ منل کېدونکي یا لوړ شمېر لرونکي تابعیت څخه یاست؟

دا معنا لري چې د برېتانیا لپاره د پناه غوښتنې ډېری ادعاوې د ستاسو د هېواد د خلکو له خوا بریالۍ کېږي؛ یا له ستاسو هېواد څخه ډېر زیات خلک برېتانیا ته د تګ هڅه کوي؛

- دویم پړاو: آیا تاسو له برېتانیا سره اړیکه لرئ؟
- دریم پړاو: د علاقې اظهار فورمو څخه تصادفي انتخاب.

## که زما غوښتنه ومنل شي، څه به پېښ شي؟

که ستاسو غوښتنلیک د کورنیو چارو وزارت لخوا وټاکل شي:

- تاسو ته به د برېتانیا ویزه (د ننوتلو جواز) تر ۳ میاشتو پورې درکړل شي.
- تاسو ته به د برېتانیا ته د داخلېدو لپاره د سفر سند درکړل شي.
- **تر راتګ وروسته، که وړتیا ولرئ، کولای شئ د پناه غوښتنه یا بل مهاجرتي مسیر وټاکئ.**
- تاسو باید د فرانسې ویزه مرکز ته د تګ لګښت پخپله ورکړئ کله چې غوښتنلیک کوئ.

## ستاسو د غوښتنې لغوه کول

ستاسو غوښتنلیک به رد یا لغوه شي که:

- تاسو له فرانسې ووځئ یا د خپل غوښتنلیک د پروسس پر مهال په غیرقانوني ډول برېتانیا ته داخل شئ.
- تاسو په فرانسه کې ویزه لرئ یا بل ځای کې پناه درکړل شوې وي.
- تاسو د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت لارښوونې تعقیب نه کړئ (لکه بې دلیله د سفر یا ویزې اخیستلو نېټه له لاسه ورکړئ).
- که د کورنۍ د کوم غړي غوښتنلیک رد شي، نو امکان لري چې ستاسو د ټولو غوښتنلیکونه هم یوځای رد شي.

# 11 د برېتانیا/اروپایي غوښتنلیک ورکوونکو د انتقال سکیم (UEATS) د شړلو لپاره

UK

**د دي نوي پروګرام له مخې څوک له برېتانيا څخه د ايستلو وړ دي؟**

د نوي برېتانیا–فرانسه تړون له مخې، یوازې لاندې شرایطو کې له برېتانیا څخه ایستل کېدای شئ:

- که تاسو له فرانسې څخه په کوچنۍ کښتۍ کې برېتانیا ته راغلي یاست.
- که تاسو په برېتانیا کې د پناه غوښتنه نه وي کړې، یا که ستاسو غوښتنه "نامنظوره" وګڼل شي – یعنې برېتانیا پرېکړه وکړي چې ستاسو غوښتنه نه پروسس کوي ځکه باید لومړی مو په فرانسه یا بل خوندي هېواد کې پناه غوښتې وای.
- که تاسو **د راتګ له ۱۴ ورځو** دننه په برېتانیا کې وپېژندل شئ.
- که فرانسه د نوي تړون له مخې ستاسو بېرته منلو ته موافقه وکړي.

**مهم**! یوازې ډېر لږ کسان د دې پروګرام له مخې نیول کېدای او انتقالېدای شي.

**ایا زه به د ایستلو نه مخکې بندیږم؟**

دا امکان شته چې تر هغه مخکې چې ستاسو د ایستلو په اړه پرېکړه وشي، تاسو د کډوالۍ په توقیف کې وساتل شئ. خو ځینې کسان باید د توقیف له منفي اغېزو له امله توقیف نه شي.

**مهم!**

که تاسو:

- تر ۱۸ کلونو لاندې عمر لرئ
- د شکنجې یا استثمار/عصري غلامۍ قرباني یاست
- د رواني روغتیا له ستونزې (لکه PTSD) یا جدي فزیکي ناروغۍ یا معلولیت څخه رنځېږئ
- حامله یاست
- د جنسي یا جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي قرباني یاست؛

**نو حتمي ده چې دا موضوع هر څومره ژر وي، او په ځانګړي ډول د پناه غوښتنې د سکرینینګ مرکې (هغه لنډه مرکه چې کله برېتانیا ته راورسیږئ تر سره کېږي) کې یاده کړئ.**

**د انتقال بهیر څه ډول دی او څومره وخت به ونیسي؟**

- د کورنیو چارو وزارت به رسمي ډول له فرانسې وغواړي چې کس بېرته واستوي او د هغه کس اړوند معلومات (لکه ستاسو بایومیټریک معلومات) واستوي.
- فرانسه به بیا د ۱۴ څخه تر ۲۸ ورځو پورې د امنیتي پلټنو بهیر ترسره کړي.
- کله چې فرانسه تایید ورکړي، نو برېتانیا باید ډاډ ترلاسه کړي چې د انتقال بهیر لپاره نور هېڅ قانوني خنډ نه وي.

**که زه په برېتانیا کې بندی شم، زما حقوق څه دي؟**

- تاسو کولای شئ له توقیف مرکز څخه د "زمانت" لپاره غوښتنه وکړئ. د کورنیو چارو وزارت باید دا غوښتنه وڅېړي.
- تاسو کولای شئ په توقیف کې د "مشورتي غونډو" برخه واخلئ چېرته چې د کډوالۍ، پناه غوښتنې او توقیف اړوند وړیا قانوني مشورې ورکول کېږي.
- تاسو حق لرئ چې یو وکیل ولرئ ترڅو ستاسو سره د زمانت غوښتنې کې مرسته وکړي، او که تاسو ته د "ارادې خبرتیا" هم درکړل شوې وي، چې دا د کورنیو چارو وزارت له خوا یو لیک دی چې تاسو ته خبر درکوي چې هغوی پرېکړه کړې چې تاسو له برېتانیا وباسي.
- تاسو کولای شئ د کډوالۍ مشاور د دې لینک له لارې پیدا کړئ https://portal.immigrationadviceauthority.gov.uk/s/adviser-finder
- که تاسو د شکنجې قرباني یاست یا کوم روغتیایي ستونزه لرئ، نو ژر تر ژره یې راپور ورکړئ.

**که زه بندی شم، له چا سره اړیکه نیولی شم؟**

که تاسو د کډوالۍ په توقیف مرکز کې نیول شوي یاست، نو تاسو کولای شئ له لاندې ادارو سره اړیکه ونیسئ:

- AVID: 08001386568 – له هر توقیف مرکز څخه وړیا زنګ
- د Humans for Rights Network شبکه: 07506663089 (د هغو ماشومانو لپاره چې د عمر په اړه یې شخړه وي او نیول شوي وي)
- قانوني ملاتړ – Duncan Lewis Solicitors: 033 3772 0409
- JCWI: 0800 160 1004 (د دوشنبې، درېشنبې او پنجشنبې د سهار له 10 څخه تر غرمې 12 پورې)
- Bail for Immigration Detainees: 020 7456 9750 (له دوشنبې تر پنجشنبې د سهار له 10 څخه تر غرمې 12 پورې)
- Detention Action: 0800 587 2096 (د هغو کسانو لپاره چې په Harmondsworth او Colnbrook کې نیول شوي دي)
- Gatwick Detainees Welfare Group: 08003894367 (د هغو کسانو لپاره چې په Brook House او Tinsley House کې نیول شوي دي)
- JRS Detention: 07856309908 (Harmondsworth او Colnbrook)
- Beyond Detention Yarls Wood: 0800 3101 992
- Care4Calais: 07482847775 – تاسو کولی شئ د خپل نوم او ژبې سره SMS واستوئ
- Solidarity Detainee Support: 07438407570